سپينه مانۍ
مطبوعاتي دفتر

د سمدستي خپرېدو لپاره د ډسمبر ۱، ۲۰۰۹

## د واقعيتونو پاڼه: په افغانستان او پاکستان کې د پرمختګ لاره

**زموږ ماموريت** – د جمهوررئيس دا وينا، د ۲۰۰۹ د مارچ اعلان شوی دغه اساسی هدف يو ځل بيا تاييدوي: د القاعدې ځپل، منحلول، او باالاخره ماتول تر څو القاعدې ته بيا دا فرصت ورنکړل شي چې يو ځل بيا په افغانستان او يا پاکستان کی ځای پر ځای شي . ددغه کار لپاره، به موږ او زموږ ملګري د خپلو عسکرو شمېر زيات کړو، ياغيان به په نښه کړو، مهم ښارونه او مرکزونه به امن کړو، افغاني قواوي به وروزو، مستعد افغاني ملګرو ته به مسوليت ور انتقال کړو، او د پاکستانيانو سره به خپله همکاري لا غښتلي کړو، څکه هغوی هم د همدې ګواښونو سره مخامخ دي .

دا سيمه د هغه نړيوال افراطيت او تشدد مرکز ګرځېدلی چې القاعده يې مشري کوي، او له همدې سيمې څخه د سپټمبر پر يوولسمي پر موږ بريدونه وسول. همدا اوس هلته د نويو حملو بندو بست کېږي. دا هغه واقعيتونه دي چې امريکايي چارواکو په همدې سيمه کې کشف او منحل کړي دي. موږ به طالبانو ته اجازه ور نه کړو چې افغانستان بيا په يو داسي د سېب په ځای بدل کړ چې نړيوال ترورستان له هغه ځايه موږ او زموږ ملګري په نښه کړي. دا به متحده ايالاتو ته نېغ په نېغه تهديد وي، او دا داسي ګواښ دی چې موږ يې نه شو زغملای. القاعده په پاکستان کی ده، او له هغه ځايه زموږ پر خلاف د حملو دسيسي کوي، او هغوی او د هغوی افراطي ملګرو يې د پاکستان دولت ته هم خطر پيښ کړی دی. په پاکستان کی زموږ هدف دا دی چه د القاعده ماته يقيني کړو څو پاکستان باثباته پاته شی.

**د غور او کتنې جريان:** دغه غو او کتنه يوه عمدی او منظمه درې –پړاويزه عمليه وه چي د اهدافو د انسجام، د دغو اهدافو د لاسته راوړلو لاري چاري، او په نهايت کی د ضروري منابعو سنجولو باند غور وشو. د لسو اونيو په ترڅ کي، جمهوررئيس د خپل ملي امنيت له مشاورينو سره نهه غونډي وکړې، او د افغانستان او پاکستان د حکومتونو په ګډون يې د خپلو مهمو ملګرو او شريکانو سره سلا مشورې وکړې. جمهوررئيس ګراني پوښتني مطرح کړې، پر ټولو لارو چارو يې په دقت غور وکړ، او ددې تر مخه چي نور اضافی امريکايي عسکر جنګ ته واستوي، پخپله کابينه کي يې مختلفي او سيالي مفکورې سره متحدي کړې .

ددغه غور په نتيجه کي، موږ خپل ماموريت لا متمرکز کړ او د سيمه ايز حل او نړيوال ملاتړ د ضرورت لپاره مو يو ګډ دريځ غوره کړ. موږ به ډېر ژر نور اضافی عسکر افغانستان ته ولېږو، او ددغو اضافی منابعو په مټ به داسي شرايط ايجاد کړو چي د ۲۰۱۱ په دوبي کی به پدې توانېږو چې خپله جنګی قوه کمه کړو، او په عين زمان کی به په هغه سيمه کی د خپلو مهمو او حياتي ګټو د ساتلو لپاره د افغانستان او پاکستان سره خپله انډيوالي وساتو .

ددې غونډو اصلي هدف دا وو چې څرنګه په هغه سيمه کی د القاعدې تهديد په ښه توګه ختم کړو او څرنګه ددغي سيمې ثبات اعاده کړو. موږ د خپلو هڅو د توازن او انډول په باب پوره غور او دقت وکړ، دغه راز مو په پاکستان او افغانستان کی د ملکي او نظامي انډول په اړه هم ښه فکر وکړ، او هم مو د متحده ايالاتو او نړيوالي ټولني پر هڅو باندې ژور سوچ وکړ.

يو شمېر مسايل په غور وڅېړل شول: په هغو کی ملي ګټي، اساسی اهداف، د تروريزم پرخلاف اولويتونه، او په پاکستان کی د ترورستانو لپاره د سېب ځايونه شامل وو. دغه راز، د متحده ايالاتو د عسکرو روغتيا او سلامتي، د عسکرو د استولو سره تړلی خطرونه او لګښتونه، دنړيوال عسکرو د استولو اړتياوي، او بين المللي همکاري او

د افغانستان او پاکستان دواړو لپاره تعهدات هم وځېړل شول. همدا راز د افغان امنیتي قواوو ظرفیت اوتوان په ټولو ساحو کی، د افغانستان حکومت د استعداد او ظرفیت، او په مرکزي او ولایتي ادارو کي د اداري فساد پر خلاف ( د مخدره موادو د کاروبارپه گډون) لارو چارو باندي غور وشو. او د اقتصادي ودي او انکشاف مسایل هم وځېړل شول.

**د مارچ د میاشتی راهیسي څه بدل شوي دي:** د مارچ راهیسي چي جمهوررئیس یو ځل بیا زموږ تعهد اعلان کړ، یو لړ مهمي پېښي را منیځته شوي دي چي د امریکا حکومت یي دېته اړ کړ چي افغانستان او پاکستان کی پرخپلي خط مشي باندي له سره غور وکړي: افغانستان او پاکستان ته نوی پاملرنه لا زیاته شوه، په افغانستان کی نوي امریکایي مشر چاړواکي وټاکل شول، پاکستان د افراطیت د ځپلو لپاره نوي هڅي پیل کړي، او په افغانستان کي شرایط لا خراب شول .

متحده ایالاتو په افغانستان کي نوي ملکي او پوځي مشران مقرره کړل. د افغانستان د سفارت لپاره سفیر کارل ایکینبري وگمارل شو، او جنرال سټینلي مک کریسټل په افغانستان کی د ایساف پوځي قواوو نوی قومندان وټاکل شو. افغانستان ته د رسېدو سره سم، ښاغلی ایکینبري او جنرال مک کریسټل پدې پوه شول چی وروسته له اتو کالو غفلت او لږو منابعو څخه د مخکنی اټکل پر خلاف حالات نور هم خراب شوي دي. ښاغلی ایکینبري او جنرال مک کریسټل په گډه یو نوی ملکی-نظامي پلان خپور کړ څو په ټول هېواد کی دامریکا هلي ځلي سره منظمي کړي .

د افغانستان ډیره پیچلی او اوږده انتخاباتي پروسه او د قانون د حاکمیت څرگند نشتوالی په کابل کي د مرکزي حکومت کمزوري او محدودیتونه لا را برسېره کړل.

په عین حال کی، په پاکستان کی، د پاکستان حکومت د افراطیانو د ماتولو او ختمولو لپاره نوی عزم او هوډ ښکاره کړ. افراطیانو د سوات سیمه لاندي کړی وه چي فقط ۶۰ میله له اسلام اباد څخه لیري پرته ده. د پاکستان د سیاسي گوندونو د مشرانو په گډون، د پاکستان سیاسي مشرتابه په گډه د پاکستان د پوځي عملیاتو ملاتړ وکړ. پدې مني کي، پاکستانیانو د افراطیانو پر خلاف جگړه ان د محسودو قبایلي سمیو ته ورسوله او هم یي د افغانستان پولو ته څېرمه په جنوبي وزیرستان کي نظامي عملیات پیل کړل .

**د پرمختگ لاره -** جمهوررئیس فیصله وکړه چی افغانستان ته ۳۰۰۰۰ اضافی امریکایي عسکر واستوی. په افغانستان کی همدا اوس ۶۸۰۰۰ امریکایي عسکر او یو شمېر د ایساف عسکر شته. دا اضافی عسکر به د مخکنی پلان پرخلاف هلته ژر تر ژره واستول شي. څو پدې ترتیب موږ وکړای شو چي یاغیان په نښه کړو، د هغوی د حرکت قوه ور ماته کړو، او د نفوسو مرکزونه په ښه توگه امن کړو. دا عسکر به زموږ سره د افغاني امنیتي قوې په موثري روزني کي لا ښه مرسته وکړي. دوی به د افغان عسکرو سره ملگرتیا وکړی څو افغانان پدې وتوانوی چي پخپله جنگ پر مخ بوزي. ددغه ملگرتیا په ترڅ کي به موږ پدې وتوانېږو چي مسولیت افغانانو ته وروسپارو، او هم خپل جنگي عسکر د کال ۲۰۱۱ په دوبي کي را وباسو. لنډه داچي دا منابعي به موږ پدې وتوانوي چي په نهایت کی افغانان داسي ورزو څو باالاخره موږ وکړای شو چي مسولیتونه ورانتقال کړو.

موږ به همدا اضافی عسکر هلته د راتلونکو ۱۸ میاشتو لپاره وساتو. پدې وخت کي به موږ په منظمه توگه خپل پر مختگ وڅارو. د ۲۰۱۱ د جولای د پیلېدو سره سم به موږ له افغانستان څخه د خپلو جنگي عسکرو د را ایستلو کار پیل کړو. پدې لړ کي به موږ په دوامداره توگه د افغانستان د امنیتي قواوو سره سلا مشوره او مرسته کوو، د هغوی د امنیت په خاطر به خپله ملگرتیا ور سره ساتو، څو هغوی پخپله دا عملیه تعقیب کړای شی. افغانان له جنگ او اشغال څخه ستړي او ستومانه دي هغوی سوله عدالت او اقتصادی امنیت غواړی. موږ به د هغوی سره دی اهدافو په تر لاسه کولو او د دی جنگ په ختمولو او د القاعده او د هغوی د بهرنیو جنگیالیدو د بیا اشغال د تهدید په مخنیوی کی مرسته وکړو.

مونږ به پدې کوښښ کي یوازي نه یو. موږ به پدې جنگ کی د افغانانو دوامداره همکاري له ځان سره ولرو، او د جنرال مک کریسټل د همکاری موثره او تېره نقشه به ډېر نور افغانان د خپل هېواد د راتلونکي لپاره په جنگ

کی داخل کړي. ناټو به هم اضافه منابع ولګوي. دغو ملګرو په افغانستان کی همدا اوس هم بې سابقه تعهدات کړي دي. موږ به د خپلو ملګروسره د اضافی عسکرو، روزونکو او منابعو په اړه په راتلونکو ورځو او اونیو کي بحثونه وکړو. ځکه څه چي زموږ په مخکی دی یوازي د دغه ایتلاف د اعتبار ازمونیه نده، بلکی څه چي زموږ په مخکی دی هغه اساسي مسله ده. د لندن او مادرید د امنیت خبره ده؛ د پاریس او برلین امنیت دی؛ د پراګ، نیویارک، او د ټولو د ډله ایز امنیت خبری دی .

او موږ به د خپلو ملګرو سره همکاري کوو. موږ به د ملګرو ملتونو او د افغانانو سره خپلي ملکي هڅي لا غښتلي کړو څو چي موږ امنیت ټینګ کړو د افغانستان حکومت به پدې وتوانیږي چی پخپله د امنیت ساتولو ته دوام ورکړي. د جمهوررئیس حامد کرزي د لوړي د مراسمو وینا سم پیغام لاره، او هغه دا چی یو نوی جهت یی وټاکی، هغه وعده وکړه چی ملي روغي جوړي ته به دوام ورکوي، د افغانستان د چم ګاونډ هېوادونو سره به اړیکي ښه کوي، او په دوامداره توګه به د افغاني امنیتي قواوو مسولیتونه ور زیاتوي. خو موږ عمل او پرمختګ ته سترګي په لاره یو. موږ څرګندي هیلي او توقعات لرو. موږ به افغاني وزارتونه ، والیان، او محلي مشران تقویه او تشویق کړو څو خلکو ته خدمت وکړي او د اداري فساد مخه ونیسي. موږ به هغه خلک تقویه نه کړو کوم چی مسولیت او حساب و کتاب نه مني، او نه د افغانانو او نه هم د دولت خدمت کوي. موږ به دغه راز خپل مرستي لکه په زراعت او داسي نور ساحو کی ولګوو چي سمدستي به د افغانانو په ژوندانه کي اغېزه ولري.

**ملکي مرستي:** د اضافه ملکي مرستو تر څنګ به د پام وړ زیات ملکي ماهران هم واستول شي. هغوی به په په اوږدې مودې کی به د افغانانو سره کومک وکړي چی د ملي او ولایتي حکومتي موسساتو ظرفیتونه او استعدادونه غښتلی او جګ کړي، او هم د افغانستان مهم اقتصادی سکتورنه بیا ورغوی څو افغانان پدې وتوانیږي چی یاغیان چي یوازي تشدد او مرګ ژوبله ایجادوي مات کړي.

اقتصادي انکشاف په لنډه موده کي د یاغیانو د کشش او جذب د کمزورکولو لپاره حیاتي اهمیت لري او په اوږدې مودې کی د دایمي اقتصادی ودي لپاره هم زیات اهمیت لري. د بیا دوانولو لپاره زموږ تر ټولو مهم لمړیتوب د بیا رغوني یوه ملکی- نظامي زراعتي ستراتیژي ده، څو د افغانستان پخوانی غښتلی زراعتي سکتور بېرته پر پښو ودروو. دا به زموږ سره مرسته وکړی چي یاغیانو ته د نویو جنګیالیو د ورتګ او هم به یاغیانو ته د کوکنارو د عایداتود ورتګ مخه ونیسي.

پر ښه حکومتداری باندي به زموږ ټینګار په ولایاتو، ولسوالیو، او محلي سطحو کي د مسولو، ښو، اوحاضرو حکومتي موسساتو انکشاف او بهتره کول وي چیري چي هره ورځ افغانان د خپل حکومت سره مخامخ کیږي. موږ به دغه راز د افغانستان د حکومت هغه کوښښونو تشویق او تقویه کړو چي د اداري فساد د ختمولو او د حساب و کتاب د ورکولو لپاره متین او پیاوړي ګامونه اخلي.

زموږ د سیاسي ستراتیژۍ مهمه برخه به د افغانستان د حکومت د هغو هلو ځلو ملاتړ وي چي غواړي هغه جنګیالي بېرته په ټولنه کي داخل کړي چي د القاعدې سره ایدیولوژیک تړاو نلري، او دېته چمتو دي چي خپلي وسلي پر مځکه کېښږدي او په سیاسي عملیه کي برخه واخلي.

**په پاکستان کي زموږ ملګري :** د پاکستان سره زموږ ملګرتیا په افغانستان کي زموږ د کوښښونو سره حیاتي تړاو لري. د خپل ملک د امنیت لپاره، موږ یوې داسي ستراتیژۍ ته اړتیا لرو چي د افغانستان- پاکستان د پولو پر دواړو غاړو باندي موثره وي، ځکه د نه عمل کولو قیمت به ډېر ګران وي.

متحده ایالات ژمنه کوي چي د پاکستان هغه استعدادونه او ظرفیتونه غښتلي کاندي چي پاکستان پدې وتوانوي څو هغه ډلي په نښه کړي چي زموږ دواړو ملکونو ته یې ستر خطرونه ایجاد کړي دي. او موږ به د هغو مشهورو ټرورستانو د سېب ځایونه و نه زغمو چی پته او ځای یې معلوم دی، او هغه ډلي به و نه زغمو چی نیت یې څرګند دی. موږ د پاکستان ملکي او نظامي مشرتابه دېته هڅوو چی د افراطیانو پر خلاف خپله مبارزه روانه وساتي او هم د ټرورستانو د سېب ځایونه پخپل هېواد کي تباه کاندي.

موږ اوس غواړو چې د پاکستان د ډیموکراتیکو موسساتو سره خپلې همکاری ته دوام ورکړو، د خپلو خلکو او حکومتونو تر مینځ اړیکي او ګډې ګټې لا غښتلي او ګرندي کړو او ګډو ګټو او ګډواندیښنو ته پام واړوو. موږ د پاکستان سره د اوږدې مودې ستراتیژیکي اندیوالۍ ته متعهد یو. موږ به د پاکستان سره په راتلونکو پنځو کلونو کي هر کال یونیم بیلونه ډالره مرسته وکړو څو د پاکستان د دیموکراسی او انکشاف سره مو مرسته کړي وي، او هم مو هڅه کړې وي چي په نړیواله سطح د پاکستان لپاره نوري مرستي هم ور جلبې کړو. د اوږدې مودې همدا د پام وړ د مرستو ژمنه به د لاندینو اهدافو لپاره وي:

(۱) د پاکستان سره د انرژۍ، اوبو، او اقتصادي بحرانونو په کمولو کي مرسته وکړو، څو پدې ترتیب د پاکستان د خلکو سره زموږ اړیکي لا غښتلي شي، او هم د افراطیانو کشش او جذب کمزوری شي؛

(۲) د داسي هر اړخیزو اقتصادي اصلاحاتو ملاتړ وکړو چی په پاکستان کی د نویوکارونو د خلقولو او د اقتصادي انکشاف لپاره ضروري دي، او چي د پاکستان د اوږدې مودې د ثبات او پرمختګ لپاره اړین دي؛ او

(۳)د پاکستان هغه بریالیتوبونه لا غښتلی کړو چی د یاغیانو پر خلاف یې تر لاسه کړي دي، او څو د پاکستان سره د هغو افراطیانو او د هغوی د سبب د ځایونو په تباه کولو کي مرسته وکړو چی پاکستان، افغانستان، سیمه، او ټوله نړۍ تهدیدوي.

اضافی امریکایي مرستي به له پاکستان سره کمک وکړي چی د اوږدې مودې د انکشاف لپاره بنسټونه کښېږدي، او دغه راز به د امریکا او پاکستان د خلکو تر مینځ اړیکي لا غښتلي کړي. دغه همکاري به دا هم وښیي چی متحده ایالات تعهد لری چی د پاکستانیانو هغه ستونزی راکمي کړي چي هغوی هره ورځ ورسره لاس او ګریوان دي. دا په داسي شرایطو کی چی موږ په ګډه غواړو هغه افراطیانو مات او تباه کړو چی پاکستان تهدیدوي او دغه راز متحده ایالات هم ګواښوي.